© rasailojaraid.com



# انتخابی نظم

جناب مولانا حافظ محمد ابراهیم صاحب فانی مدرس دارالعلوم حقانیه
اکوړه ختک

دَ ۱۹۸۵ء دَ پاکستان دَ قومی انتخاباتو په لړکښې کله چه دَ حضرت شیخ الحدیث صاحب نامزدګی دَ قومی اسمبلۍ دَ اُمیدوار په توګه اوشوه نو دَ دوی انتخابی نخښنه "وونه" وټاکلے شوه۔ دَ انتخابی مهم په موقع راقم ګڼړ نظمونه لیکلی وُو۔ ولے دَ هغو تعلق دَ هغه وخت سره وو۔ نو ځکه دَ هغو نقلونه مے محفوظ اونه ساتلے شول۔ خوش قسمتۍ نه دا یو نظم په لاس راغے۔ چه دَ دوستانو په وړاندې ئے پیش کووم۔ (محمد ابراهیم فانی)۔

وونه ده زمونږه یاد لرئ انتخابی نخښنه
هېره چه ئے نه کړے په هیڅ شان انقلابی نخښنه

(۱)

وونه ده زمونږه دَ مولانا عبدالحق نشان   دا ده دَ وطن دَ بهارونو دَ رونق نشان
ځکه ښکلی ښکاری دَ دُنیا دَ ښادابی نخښنه
هېره چه ئے نه کړے په هیڅ شان انقلابی نخښنه

(۲)

وونے له ورکړے پاک الله څومره عظمت دے   ذکرئے راغلے په قرآن کښے په عزت دے
ووت درته خطا نۀ شی هُم داده کتابی نخښنه
هېره چه ئے نه کړے په هیڅ شان انقلابی نخښنه

(۳)

وا اوره اسمبلۍ ته دَ دوی تلل دَ دین دَ پاره دی   ځکه کښے په وطن کښے اسلامی آئین دَ پاره دی
وونه ده زمونږ۔ دَ مولانا دَ کامیابۍ نخښنه
هېره چه ئے نه کړے په هیڅ شان انقلابی نخښنه

(۴)

دغه وونه خدایګو چه ده څۀ ښکلی ژیبا وونه   دغه راته ښکاری دَ جنت هغه طوبیٰ وونه
وائی فانیؔ دا چه دَ لوئے شان ده ثوابی نخښنه
هېره چه ئے نه کړے په هیڅ شان انقلابی نخښنه

© rasailojaraid.com